لیکنه: حمیدالله بسیا

۱۴ می ۲۰۲۵

## د بریټش موزیم نا ویل شوي حقایق

بریټش موزیم British Museum چې د نړۍ له زړو، مشهورو لرغونتونونو(موزیمونو) څخه دی، چې په ۱۷۵۳م کال کې یې بنسټ اېښودل شوی دی. دا موزیم د انګلستان د پارلمان له خوا د یوه قانون پر بنسټ رامنځته شو، چې د "هانس سلوآن"د هغو شخصي تاریخي توکو پر بنسټ تاسیس شو چې نوموړي لرل او له بېلابېلو هېوادونو یې راوړي وو. سلوآن، چې یو طبیعيپوه، ډاکټر، او راټولونکی و، شاوخوا ۷۱،۰۰۰ توکي، چې د نباتاتو، حیواناتو، کتابونو، سکونو، هنرونو او آثارو پراخه مجموعه یې رانغښتې وه، دولت ته وړاندیز کړل چې یو موزیم پرې جوړ شوي چې هماغسي وشول او دا ټولګه د بریتانوي موزیم د بنسټ لومړۍ ډېره شوه.

په ۱۷۵۹م کال کې دا موزیم رسماً د عامو خلکو پر مخ خلاص شو، او د لندن په بلومزبري سیمه کې د "مونټېګیو هاوس" په یوه ودانۍ کې ځای ورته وټاکل شو. د موزیم موخه دا وه چې "ټول انسانان باید د پوهې څخه برخمن شي." که څه هم دا دې شعار د علم او پوهې د خپراوي خبره کوله خو عملاً دا بنسټ د یو سلطنتي واکمن د استعماري سیستم انعکاس و، چې د نړیوالو توکو او اثارو له غلا کولو سره تړلی و.

په ۱۹مه او ۲۰مه پېړۍ کې، د بریتانوي ستروواکۍ له پراخېدو سره، د موزیم ټولګه هم پراخه شوه. ډېری توکي د جګړو په ترڅ کې ، په نورو هېوادونو کې د لاسوهنو، استعماري بریدونو، او زور و ځواک په وسیله ترلاسه شول. د بریتانوي موزیم د اوسني بنسټیز آرشیف بنسټ هم په همدې مهال کېښودل شو، چې پکې د لرغونو تمدنونو، فرهنګي خزانو، مذهبي آثارو، او هنري توکو بېساري مجموعه شامله ده.

بریتانوي موزیم، چې د نړۍ له سترو موزیمونو څخه شمېرل کېږي، د شاوخوا اتو میلیونو تاریخي توکو درلودونکی دی، خو یوازې کمه فیصدي یې د عامو خلکو لپاره ننداري ته وړاندې شوي دي. پاتې ستره برخه یې یې په پټو زیرمتونونو کې ساتل کېږی دا موزیم یې د یوې "زېرزمي امپراتورۍ" په بڼه بدل کړی دی. دا موزیم که څه هم د نړۍ د تاریخي حافظې خزانه بلل کېږي، خو تر دې ښکلي نوم لاندې، د استعمار تیاره سیوري خپاره دي.

ان تر دې چې پیل یې په همدې بڼه ایښودل شوی بنسټګران یې د هانس سلوآن، روبرټ کاټن، او رووبرټ هارلي چې د دوی په شخصي توکو موزیم تاسیس شوی وو خپل دا توکي د استعمار او غلامساتني له لارې تر لاسه کړي وو. د موزیم ځیني اثار له پخوانیو مستعمراتو څخه غلا شوي دي — لکه د مصر مومیایي، د افریقا مجسمې، د یونان د پارتینون مجسمې، د ایتوپیا د سرو زرو تاجونه، د افغانستان کوه نور الماس، او نور ګڼشمېر ارزښتناک توکي. دا آثار

نه یوازې د خپلو اصلي هېوادونو له فرهنګي هویت څخه جلا شوي، بلکې تر ننه هم بریتانیا اصلي هېوادنو ته د هغوی بېرته ستنولو ته زړه نه ښه کوي.

په ۱۸۶۸م کال د ایتوپیا د جګړې، د مصر د مومیایو د بې‌احترامي، او د یونان د پارتینون مجسمو د غلا کیسې، دا ټول د یوه منظم فرهنګي تیرى نښې دي، چې له استعمار سره تړاو لري.

د فرانسوي کارپوهانو د څېړنو له مخې، تر ٪۹۵ زیات افریقایي هنري آثار اوس هم له افریقا بهر ساتل کېږي، چې دا ښيي فرهنګي استعمار اوس هم دوام لري. نه یوازې دا، بلکې ډېری لوېدیځ موزیمونه، لکه د بریتانوي موزیم په څېر، دا آثار د نړیوالو میراثونو برخه ګڼي، او د بېرته ستنولو هر ډول غوښتنو ته بېلابېلې پلمې لټوي.

د بریتانوي موزیم چارواکي د ۱۹۶۳م کال هغه قانون د بنسټ په توګه کاروي چې ګواکي اصلي هېوادونو ته د آثارو بېرته ورکول جواز نه لري. خو همدا قانون اجازه ورکوي چې هغه توکي چې د ساتلو لپاره مناسب نه وي، له منځه یووړل شي. دا قانون یوازې انتخابي تطبیق کېږي، او د شخړه‌ناکو توکو بېرته ورکولو ته هېڅ ارزښت نه ورکول کېږي.

فرانسه، جرمني، او نور اروپایي هېوادونه ورو ورو تاریخي اثار مبدا هېواد ت د بېرته ورکوني سیاستونه پلي کوي. د مثال په توګه، فرانسې په ۲۰۲۱م کال کې د بنین یو شمېر آثار بېرته ورکړل. دا ښيي چې د موزیمونو راتلونکی باید د شفافیت، حساب ورکوني، او فرهنګي عدالت پر بنسټ جوړ شي.

خو بریټش موزیم تر اوسه هم د دې نوي تصور سره مخالفت کوي، او د یوې سترې نړیوالې خزانې په نامه خپل دریځ توجیه کوي. دا دریځ نه یوازې غیرعادلانه دی، بلکې د ملتونو ترمنځ د باور، احترام، او فرهنګي ارزښتونو خنډ هم دی.

بریټش موزیم نه یوازې د هنري او تاریخي آثارو یو ستر ګنج دی، بلکې د ښکېلاک د تور تاریخ ژوندي یاد هم دی. تر څو چې دا موزیم غلا شوي آثار خپلو اصلي هېوادونو ته بېرته ونه سپاري، د تاریخ زخمونه به پرانستي پاتې وي، او عدالت به یوازې یو شعار وي. دا موزیم باید د یوه نوي، اخلاقي رول لپاره چمتو شي، ترڅو له تاریخ څخه د پند اخیستو پر ځای هغه تکرار نه کړي.